هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۲۹۵) ماه شعبان المعظم ۱٤٤٦ هـ ق. مطابق ماه دلو ۱٤۰۳ هـ ش.


**علم او پوهه د ټولني د پرمختګ اساس دی**

**درنو هیوادوالو!**

# په مدرسو او ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو په شمولیت سره خپل مسئولیت ادا او د هغوی راتلونکی روښانه کړئ

«وَ عَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ» (آیت ۳۱ سوره بقره)

ژباړه: او وښوول الله جل جلاله ادم علیه السلام ته نومونه د ټولو شیانو بیائې وړاندې کړل دا ټول شیان ملایکو ته بیائې وویل وښایئ ماته نومونه د دې که چېرته تاسې صادقان یاست.

راځئ! چې نوی ښوونیز کال د زده کړې او ودې په فرصت بدل کړو ترڅو مو د نن ورځې زده کړه د سبا ورځې د یو روښانه راتلونکي ضامن شي.

علم او پوهه د یوې رڼا په څېر د انسان زړه او دماغ روښانه کوي، له بې لارې او مایوسۍ څخه یې ژغوري، خپلې موخې ته یې رسوي او له بلې خوا ناپوهي داسې تیاره ده چې انسان له ډار، خطر او خوارۍ سره مخامخ کوي. الله تعالی جل جلاله د پوه او ناپوه د توپیر په هکله داسې فرمایلي: (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ) د الزمر سورت ۹ نمبر آیت


ژباړه: «ته ووایه برابر دي آیا هغه کسان چې پوهېږي، او هغه کسان چې نه پوهېږي.

علم او پوهه د خپل ځان او خالق جل جلاله د پېژندنې وسیله ده په کارده چې له علم سره عمل هم ملګری وي، همدا ډول له علم او پوهې څخه باید د ټولنې د هوساینې او سوکالۍ لپاره کارواخلو او په پرله پسې ډول د خپلو خلکو او دهېواد د نیکمرغۍ لپاره هلې ځلې وکړو.

## ننګرهار کې د ۴۴ مېلیونه افغانیو په لګښت د یو باب ښوونځي ودانۍ رغول

د ننګرهار ولایت خوګیانو ولسوالۍ اړوند چتلې لیسې د ودانۍ رغنیزې چارې، چې یو کال وړاندې د ۴۴ مېلیونه افغانیو په لګښت د یوې همکارې ادارې په مرسته پیل شوې وې، د پوهنې رئیس مولوي محمد شریف «حلیمي»، مسئولینو، علماءکرامو او د یادې ولسوالۍ د خلکو د استازو په حضور کې ګټې اخیستلو ته وسپارل شوه. د یادې لیسې ودانۍ په ۸۴۰ پایو مېزونو او څوکیو سمبال ۲۴ درسي ټولګي، ۲ لابراتوارونه، ۲ کمپیوټر خونې، لمریزې بریښنا سیستم، او نور اړین محلقات لري، چې په دې سره له ۲۵۰۰ تنو څخه زیاتو زده کونکو ته د ښوونې او روزنې خوندي چاپېریال رامنځته شو.

## د قرآن کریم د نړیوالو سیالیو یو څلوېښتم پړاو د افغانستان اسلامي امارت پلاوي په حضور کې ترسره شو



د قرآن کریم د ترتیل، تجوید، حفظ او حسن قرائت په برخو کې نړیوالې سیالۍ، چې هر کال د ایران هېواد په کوربتوب، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د علماء کرامو او حافظانو په ګډون ترسره کېږي، سږ کال د یادو سیالیو یو څلوېښتم پړاو د اړوندو هېوادونو د جیدو علماءکرامو په حضور کې ترسره شو...

۲مخ

## د اسلامي زده کړو معین د کابل ښار دارالعلومونو له آمرینو او استاذانو سره وکتل

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین الحاج مولوي کرامت الله «آخندزاده» د کابل ښار دارالعلومونو له آمرینو او استاذانو سره په لیدنه کې، پر یو شمېر مهمو مسایلو خبرې اترې وکړې.

په یاده غونډه کې، آمرینو او استاذانو د خپلو وړاندیزونو او ستونزو وړاندې کولو سربېره، د نوي ۱۴۰۴ ښوونیز کال لپاره د خپلو ادارو پلانونه هم د اسلامي زده کړو له معین سره شریک کړل.

ورپسې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین، د غونډې د ګډون والو د نظرونو او وړاندیزونو له آورېدلو وروسته، هغوی ته ډاډ ورکړ، چې د دوی ستونزې او وړاندیزونه به په خپل وخت سره حل شي او له پورته ذکر شویو چارواکو څخه یې وغوښتل، تر څو د یاد وزارت د پلانونو او پروګرامونو په پلي کولو کې جدي همکاري وکړي.

## امضای تفاهم‌نامه همکاری میان ریاست معارف ولایت خوست و اتحادیه داکتران آن ولایت

مسئولین معارف ولایت خوست از امضاء تفاهم نامهٔ میان ریاست معارف و اتحادیه داکتران آن ولایت خبر میدهند که بر اساس آن معلمین می توانند با ارائه کارت های هویت خویش در سرتاسر ولایت مذکور به گونه رایگان از معاینه داکتران مستفید شوند.

رهبری وزارت معارف از فراهم آوری سهولت ها طبی داکتران با احساس کشور برای معلمین آن ولایت، اظهار قدردانی نموده و از اتحادیه داکتران ولایت خوست جهت حمایت شان از معلمین سپاسگزاری می کند.

## دایکنډي کې د یو باب ښوونځي لپاره نوې ودانۍ ورغول شوه



د دایکنډي ولایت اشترلي ولسوالۍ اړوند د جنګان کلان لیسې ودانۍ، چې د یادې ولسوالۍ د خلکو د پراخې همکارۍ له امله د ۵.۴ مېلیونه افغانیو په لګښت جوړه شوې، د یادې ولسوالۍ د پوهنې مسئولینو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ښوونځي دغه ودانۍ چې ۱۱ درسي ټولګي او ۲ اداري خونې پکې شاملې دي، هغو زده کونکو ته چې پخوا یې په آزاده فضا کې زده کړې کولې، اوس د زده کړې خوندي چاپېریال برابر شو.

د پوهنې وزارت مشرتابه، له ...

۲مخ

## ده ها مدرسه ومکتب در غور ترمیم و بازسازی شد

ده ها مدرسه و مکتب با هزینه بیش از ۸ میلیون افغانی در غور ترمیم و بازسازی شده است. شیخ حفیظ الله محفوظ غوری رئیس معارف ولایت غور میگوید که این پروژه شامل ترمیم و بازسازی ۳٤ باب مکتب، دو مدرسه و یک دارالحفاظ می‌باشد که با هزینه یی بیش از ۸ میلیون و ٥٥٦ هزار افغانی و از بودجه وزارت معارف ترمیم و بازسازی شده است. وی ترمیم این تآسیسات را گامی مهم در بهبود وضعیت تعلیمی و ایجاد محیط مناسب آموزشی برای شاگردان عنوان کرد و گفت که با ترمیم و بازسازی این مدارس و مکاتب بخش زیادی از مشکلات تعلیم و تربیه در این ولایت حل شده است و برای هزاران طالب العلم و شاگردان زمینه آموزش در فضای مناسب آموزشی فراهم شده است.



## وقف زمین برای اعمار یک باب مدرسه دینی در ولایت بامیان



قطعه زمینی به مساحت ۳۰۰ متر مربع که قیمت تخمینی آن بیش از ۵۰۰ هزار افغانی برآورد شده است جهت اعمار مدرسه امام جعفر صادق، از سوی دوتن اهالی معارف دوست ولایت بامیان به نام های؛ عصمت‌الله و محمدهاشم برای معارف وقف گردید که سند رسمی...

ص۲

## خریداری صدها پایه میز و چوکی برای مکاتب ولایت لوگر

به تعداد ۸۰۰ پایه میز و چوکی سه نفره برای مکاتب ولایت لوگر به هزینه ۴ میلیون و ۲۰۰ هزار افغانی از بودجه معارف خریداری شده و قرار است برای مکاتب آن ولایت که به مشکل کمبود میز و چوکی مواجه اند، توزیع گردد.

به گفته مسئولین ریاست معارف ولایت لوگر با توزیع آن قبل از آغاز سال تعلیمی جدید، مشکلات بیش از ۲۴۰۰ تن شاگردان مکاتب ولایت لوگر از بابت کمبود میز و چوکی، برطرف خواهد شد.

## در این شماره


ماشومان، تنکي ځوانان او پر دوی د ټکنالوژي مثبتې او منفي اغېزې — ۲ مخ

د پوهنې وزارت دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو اوونیز راپور — ۳ مخ

د ښوونکو مسلکي پراختیا ریاست علمي غړو لپاره روزنیز ورکشاپ پرانیستل شو — ۳ مخ

پروان کې د یو باب مدرسې د جوړېدو لپاره ځمکه وقف شوه — ٤ مخ

دیدار رئیس مکاتب خصوصی با رئیس معارف ولایت هلمند — صفحه ٤

سرلیکنه

## زده کوونکو ته ښايي چې له خپلو درسي کتابونو ښه ساتنه وکړي

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلَينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجمَعِين.

درسي کتابونه د زده کړې بنسټيزې وسيلې او همدارنګه د علم او پوهې د حاصلولو سرچينې دي. په دې کتابونو کې ټول هغه مواد او معلومات چې يوه طالب العلم او زده کوونکي ته لازمې دي ځای په ځای شوي وي.
درسي کتابونه د زده کړې يو له مهمو عنصرونو څخه شمېرل کېږي. کله چې طالب العلمان او زده کوونکي د کتابونو څخه ګټه اخلي د هغوی د پوهې د پراختيا، مهارتونو د پرمختګ او فکري ورتياوو د جوړولو لپاره ډېره اغېزناکه وسيله ده، نو ښايي چې طالب العلمان او زده کوونکي د خپلو درسي کتابونو سره د زړه له کومې مينه ولري او ښه ساتنه يې وکړي. که دوی د کتابونو په ساتنه کې پاملرنه وکړي نور زده کوونکي هم کولای شي چې د راتلونکي ښوونيز کال لپاره دغه کتابونه په ښه توګه وکاروي او ګټه ترې واخلي.
ګران طالب العلمان او زده کوونکي بايد دې ټکي ته پام وکړي چې د کتابونو چاپول او تر مدرسو، ښوونځيو، طالب العلمانو او زده کوونکو پورې يې رسول په ډېر لوړ مالي لګښت تر سره کېږي که چېرې دوی د خپلو کتابونو په ساتنه کې پاملرنه وکړي نو د کتاب د استهلاک عمر به اوږد شي او تر ټاکلي مودې به زر له منځه نه ځي او هم کولای شو هغه لګښت چې د کتابونو په چاپ کېږي د ښوونيز نظام د لا تقويې او ودې لپاره مصرف کړو. کله چې کتابونه زاړه شي، دا نه يوازې د زده کړې په بهير کې د زده کوونکي لپاره خنډ جوړوي بلکه د رواني اړخه هم په طالب العلمانو او زده کوونکو منفي اغېز لري. هغه ځکه چې طالب العلمان او زده کوونکي په دې فکر کې وي چې کتابونه يې زاړه او له منځه تللي، دا حالت د دوی په ښوونيز تمرکز باندې منفي اغېزه لري.
طالب العلمان او زده کوونکي بايد خپل درسي کتابونه له اوبو، د لمر له تودخې او د ماشومانو له لاسرسي څخه لېرې وساتي او خپل کتابونه پوښ کړي تر څوژر زاړه نه شي. کتابونه بايد په يوه مناسب ځای کې کېښودل شي لکه الماری او يا هم دېته ورته خوندي ځای. زده کوونکي بايد د خپلو کتابونو د ښې ساتنې لپاره د ټاکلي ځای سربېره، هغه بايد په احتياط او منظم ډول مطالعه کړي او په ساتنه کې يې پام وکړي.
طالب العلمان او زده کوونکي بايد پوه شي چې کتابونه د هغوی د پوهې لاسته راوړلو لپاره تر ټولو مهمه سرچينه ده، او بايد تر ټولو زيات د دې ګټورې سرچينې څخه سمه او مؤثره ګټه پورته کړي. طالب العلمان او زده کوونکي بايد په دې وپوهيږي چې کتابونه يوازې اوس نه، بلکې په راتلونکې کې هم د هغوی لپاره د پرمختګ او برياليتوب يوه وسيله ده.
پوهنې وزارت د خپلو شته امکاناتو په درلودلو سره په تېرو دريو کلونو کې توانېدلی چې د هېواد لرې پرتو سيمو ته په مېليونونه ټوکه درسي کتابونه تر مدرسو او ښوونځيو پورې ورسوي او د طالب العلمان او زده کوونکو اړتياوې د کتابونو د نه شتون له پلوه پوره کړي او دا لړۍ به جاري وي.
هغه څه چې مهم دي دا دي چې طالب العلمان او زده کوونکي دې هم له خپلو کتابونو څخه په ښه توګه ساتنه وکړي تر څو د کتابونو عمر زيات شي او په راتلونکو کلونو کې نور زده کوونکي هم ورڅخه تر ډېره وخته ګټه واخيستلای شي.

## ماشومان، تنکي ځوانان او پر هغوی د ټکنالوژۍ مثبتې او منفي اغېزې



ننني ټکنالوژي پر ماشومانو منفي او هم مثبتې اغېزې لري چې پر دواړو لورو يې بايد ځانونه پوه کړو.
د ټکنالوژۍ په عصر کې ژوند، يا ډيجيټل نړۍ د ماشومانو لپاره ډېر جذابيت لري. د ماشومانو دا خوښېږي چې ساعتونه ساعتونه پر مبايل، کمپيوټر او نورو ډيجيټلي وسيلو تېر کړي، لوبې په کې وکړي او ځانونه پرې بوخت وساتي.

### د ټکنالوژۍ د زمانې ماشوم

تر هغو چې مور او ماشومان مو يواځې له الکترونيکي وسيلو لکه کمپيوټر، موبايل او ټبليټ څخه کار اخلو يا په ټولنيزو رسنيو کې ډېر بوخت پاتې کېږو، په دې معنا ده چې مور د ټکنالوژۍ په خدمت کې يو، نه ټکنالوژي زمور په خدمت کې. په داسې يوه حالت کې مور د خپل ژوند د څرنګوالي پريکړه، له کومې عادي هڅې پرته هم ټکنالوژۍ ته سپارو.
ډېری والدين کله چې ګوري کم عمره ماشومان يې پر موبايل ټيلفونونو کې اخته وي او ګيمونه په کې کوي يا يې پر اپليکيشنونو باندې بلد وي، ورته خوشالېږي او فکر کوي چې ماشوم يې پرمختګ کړی دی، اما برعکس دا وضعيت د دې ښکارندويي کوي چې ماشوم مو په يوه مصرفي شخص بدل شوی او د پرمختګ مخه يې نيول شوې ده.
لاندې پر ماشومانو د ټکنالوژۍ د مثبتو او منفي اغېزو په اړه څو ټکو ته اشاره کوو.
ټکنالوژي ماشومانو ته دا امکان ورکوي چې له خپلې کورنۍ، ملګرو او نورو سره داسې اړيکې ټينګې کړي چې د هغوی اړيکې ورسره پياوړې کېږي، په ځانګړې توګه کله چې په چټ کې ويډيويي خبرې کوي.
ټکنالوژي له ماشومانو سره مرسته کوي چې په خپلواکه او چټکه توګه زده کړه وکړي، ټکنالوژي ماشومانو ته دا زمينه برابروي چې د خپلې خوښې موضوعات پيدا او ولولي.
که څه هم ټکنالوژي د کورنۍ له غړو يا خپلوانو سره د ماشومانو فزيکي تړاو او راشه درشه پيکه کوي، خو هغوی ته لرې تر لرې دا فرصت ورکوي چې په مجازي ډول له هغوی سره په اړيکه کې پاتې شي.
ټکنالوژي ته د ماشومانو لاسرسی د هغوی د ډيجيټلي پوهې له پياوړتيا سره مرسته کوي او دغه پوهه ماشومانو ته په راتلونکي کې په درد خوري.
د ټکنالوژۍ اکثره وسيلې په ماشومانو کې د سترګو او لاسونو همغږي زياتوي. د دې ترڅنګ ماشوم سره د ژبې په زده کړه او د مسئلو په حل کې هم مرسته کوي.
پر ماشوم د ټکنالوژۍ ښکاره مثبتې اغېزې :

- د ماشومانو ذهني وده.
- د زدکړې د مهارتونو لوړېدل.
- د مسئلو د حل مهارت.
- اطلاعاتو ته آسانه لاسرسی.
- د بهرنيو ژبو زده کړې.
- د انتقادي تفکر وده.
- فعاله ژوند کول.
- بوختيا.

### پر ماشوم د ټکنالوژي منفي اغېزې

پر ماشوم د ټکنالوژي لومړنۍ منفي اغېزه داده چې که يې مخه ونه نيول شي، غواړي خپل حد اکثر وخت له ټکنالوژيکي وسايلو سره تېر کړي. د اروا پوهنې متخصصين سپارښتنه کوي چې د ۲ تر ۵ کلنو ماشومانو لپاره بايد په شپه او ورځ کې يواځې د يوه ساعت لپاره د ځيرکو ټيلفونونو يا ټابليټونو کارونه محدوده شي.
د ټکنالوژي بله منفي اغيزه داده چې د ماشوم چلند ورسره بدلېږي، ماشوم يو څه لانجمن عادت کېږي.
چاغوالی، کم حرکت او د خوب ستونزې.
د اوږد مهاله چاغۍ او قلبي ناروغيو ګواښ.
خوب يې له اختلالاتو ډک وي او د خوب کيفيت يې اغيزمن کېږي، په ځانګړې توګه هغه ماشومان چې د خوب خونه کې له ځيرکو ټکنالوژيکي وسيلو کار اخلي.
د توجه کموالی.
ټولنيز چلند يې حد اقل کچې ته رسيږي.

- د خپګان لامل هم کيږي.
- په ښوونځي کې دکمو نمرو اخيستل.
- د عاطفي چلند کمښت.

### د منفي اغېزو حل لارې

که تاسې پوهېږئ چې خپل ماشومان د ټکنالوژي له کارولو نه شئ منع کولی، نو په بديله لاره يې فکر وکړئ.
د بېلګې په توګه تاسې کولی شئ چې دوی ته په موبايلونو کې د زده کړو او نورو مهارتونو د زده کولو پروګرامونه نصب کړئ يا نورې لارې چارې ورته په ګوته کړئ څو د دوی په ژوند کې مثبت اغېز راولي.

### دايکنډي کې د يو باب ...

افغان ولس په ځانګړې توګه د دايکنډي ولايت علم پروره خلکو د مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه کوي او د هغوی کړنې ستايي.

### وقف زمین برای اعمار ...

زمین یاد شده در مراسمی رسما به رهبری ریاست معارف بامیان سپرده شد.
این در حالیست که چندی پیش نیز اهالی سرخدر آن ولایت یک قطعه زمینی به مساحت دو جریب را جهت اعمار مدرسه خاتم‌الانبیاء علیهم‌السلام به معارف اهداء نموده بودند.

### د پوهنې او مالیې وزارتونو د...

د سرچينو او اداري معين الحاج مولوي صبغت‌الله «وصيل»، د ماليې وزارت د غير مالياتي عوايدو رئيس امان الله «امين»، د پوهنې وزارت د ودانيو د ساتنې، املاکو او مراقبت رئيس مولوي سميع‌الحق «حماس» او د دواړو ادارو يو د شمېر تخنيکي همکارانو په حضور کې جوړه شوه.
د يادې غونډې اساسي موخه، د پوهنې وزارت د عوايدو د ارزونې او خدماتو وړاندې کولو لپاره د پوهنې او ماليې وزارتونو د ګډ پلاوي په تشکيل سره د امارتي املاکو د کرنلارې چمتو کولو، د کانټينونو کرايې لپاره د لارښود پر برابرولو او د پوهنې وزارت د ودانيو د ساتنې، املاکو او مراقبت رياست لخوا پر وړانديز شويو موضوعاتو هر اړخيز بحثونه ترسره شول.
په پلان کې ده، چې د يادې کمېټې غړي په راتلونکو غونډو کې د اداري پړاوونو له مخې، د پورته ذکر شويو مسايلو پر بنسټ کړنلاره چمتو او پلې کړي.

### د ښوونکو د مسلکي ...

لايحې، تنويرالافکار، حسن سلوک او مسئوليت پېژندنې په اړه معلومات ورکړل شي او له ګډون والو يې وغوښتل چې د ورکشاپ له زده کړو مهارتونو څخه بشپړه ګټه پورته کړي.

### دیدار رئیس مکاتب خصوصی...

به رئیس مکاتب خصوصی وزارت معارف ارائه داشته و در فراهم سازی زمینه تطبیق پلان های سفر هیئت، به آنان وعده هرگونه همکاری سپرد.

### د قرآن کريم د نړيوالو...

په يادو سياليو کې چې څه موده وړاندې په ايران کې ترسره شوې، د افغانستان اسلامي امارت پلاوي د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معينيت د دارالحفاظونو علمي او تدريسي آمر استاد مبين شاه «رمزي»، په مشرۍ ګډون درلود.
په پای کې د ځانګړي داور پلاوي لخوا د پايلو او ارزونو وروسته، د يادو مهمو سياليو لومړي، دويم او درېيم مقامونو ګټونکو ته تصديق پاڼې او ډالۍ ورکړل شوې.

## لنډخبرونه

### کابل

د کابل ښار ښوونځیو لپاره د کرایي کورونو قرارداد غخولو بهیر، د کابل ښار پوهنې رئیس قاري عبدالباسط «حقاني» په حضور کې پیل شوه.

### بامیان

د بامیان ولایت کهمرد ولسوالۍ اړوند د بنق سیمې اوسېدونکو د احمدیه مدرسې لپاره یو جرېب ځمکه، چې اټکل شوی ارزښت یې له ۵۰۰ زره افغانیو څخه زیات دی، وقف کړه.

### بدخشان

د بدخشان ولایت شهدا ولسوالۍ د ښوونځیو آمرینو او سرښوونکو لپاره د "اغېزمنې زده کړې او پوهې ترویج" تر سرلیک لاندې ۶ ورځنی روزنیز ورکشاپ ترسره شو.

### پکتیکا

د سروبي ولسوالۍ پوهنې مسئولینو او خصوصي روغتیایي سکټورونو ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د دې ولسوالۍ ښوونکي او زده کونکي کولی شي، د پکتیکا په خصوصي روغتیایي مرکزونو کې له ۳۰، ۵۰ او ۱۰۰ سلنې تخفیف څخه ګټه پورته کړي.

### سمنګان

د خصوصي مدارسو او ښوونځیو د مسئولینو ورتیا لوړولو لپاره یو ورځنی روزنیز سیمینار؛ د سمنګان ولایت پوهنې ریاست لخوا د مدیریتي کړنو لا ښه والي او د اجرائیوي او اداري چارو په برخه کې د چارواکو د پوهاوي کچې لوړولو په موخه پرانیستل شو.

### پکتیا

سیمینار ۶ روزه تحت عنوان «اداره و مدیریت بهتر» از سوی کارشناسان وزارت معارف برای کارمندان مرکزی و آمریت های معارف ولسوالی های ولایت پکتیا راه اندازی گردید.

### غور

مولوی حفیظ الله محفوظ رئیس معارف ولایت غور در دیداری با مسئول پروگرام های یکی از دفاتر حمایوی معارف در رابطه با تطبیق ۸ پروژه آبرسانی؛ برای متعلمین مکاتب در آن ولایت بحث و گفتگو نمودند.

### تخار

ترمیم و نصب سیستم آفتابی و آب آشامیدنی صحی از سوی یک نهاد حامی معارف در ولایت تخار، برای بیش از ۱۵۰۰ تن متعلم سهولت های دسترسی به آب صحی را فراهم ساخت.

### سرپل

سیمینار یک روزه تحت عنوان «چارچوب وظایف برنامه تربیه معلم و انکشاف مسلکی» با حضور مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت سرپل، برای آمرین معارف و اعضای علمی انکشاف مسلکی آمریت های معارف مرکز و ولسوالی های آن ولایت برگزار گردید.

### سمنګان

سیمینار ۱۵ روزه ارتقاء ظرفیت برای ۱۶۰ تن از مسئولین و مهتممین ۸۹ باب مدارس خصوصی، با حضور داشت رئیس و مسئولین معارف ولایت سمنگان آغاز گردید.

### پروان

به مساحت ۱۲۰۰ متر مربع یک قطعه زمین از سوی اهالی ولسوالی بگرام ولایت پروان جهت اعمار مدرسه دینی خیرالمدارس وقف گردیده و عملاً سنگ تهداب آن با حضور رئیس و مسئولین معارف ولایت پروان گذاشته شد.

## هرات ولایت ته د پوهنې وزارت د ساینس مرکز د رئیس سفر




د پوهنې وزارت د ساینس مرکز د رئیس ډاکټر محمد عمر "دوران زي" په مشرۍ یو پلاوی د رسمي سفر په ترڅ کې هرات ولایت ته ولاړ.

په پیل کې نوموړي د هرات ولایت پوهنې ریاست سرپرست مولوي محمد اسماعیل مظفري او نورو مسئولینو سره په کتنه کې، د دغه ولایت پر یو شمېر پوهنیزو مسایلو تفصیلي خبرې وکړې.

په دې کتنه کې د هرات پوهنې ریاست سرپرست دغه پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د کاري پلانونو د پلي کولو په برخه کې له خپل لوري د بشپړې همکارۍ او لازمو امکاناتو برابرولو ډاډ ورکړ.

د ساینس مرکز رئیس او ورسره مل پلاوي هرات ولایت ته د خپل سفر موخه د ټرلیو ښوونځیو د علتونو ارزونه وبلله او د دغه ولایت د پوهنې ریاست له مسئولینو یې د همکارۍ هیله وکړه.

## د ښوونکو مسلکي پراختیا ریاست علمي غړو لپاره روزنیز ورکشاپ پرانیستل شو

د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست لخوا د پروان، پنجشېر او کاپیسا ولایتونو د ښوونکو مسلکي پراختیا ۲۴۲ تنو علمي غړو لپاره ۴ ورځنی روزنیز ورکشاپ، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د رئیس مولوي محمد ابراهیم عمري او د یادو ولایتونو پوهنې مسئولینو په حضورې کې پیل شو.

د یاد پروګرام په پیل کې، د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا رئیس د یاد روزنیز ورکشاپ د تنظیم په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او دا یې د مسلکي پراختیا غړو د مسلکي وړتیاوو لوړولو په برخه کې یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

## د معیاري آزموینو او ښوونیزو پایلو ارزونې رئیس د ننګرهار او کونړ ولایتونو له ښوونځیو څخه لیدنه وکړه



د پوهنې وزارت د معیاري آزموینو او ښوونیزو پایلو ارزونې رئیس مولوي شمس الرحمن «حماس»، ننګرهار او کونړ ولایتونو ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د یادو ولایتونو له پوهنې رئیسانو، مسئولینو او د اصول صنفي ټولګیو ارزونې مؤظفو ټیمونو سره وکتل.

ورپسې نوموړي د کونړ ولایت کوز کونړ ولسوالۍ اړوند توکل بابا، سید احمد بابا، یاسین بابا لېسو او د ننګرهار ولایت د کامې او بهسود ولسوالیو د شیګړ او محمدي زاده لېسو ښوونیز او روزنیز وضعیت له نږدې څخه وڅاره.

د پوهنې وزارت د معیاري آزموینو او ښوونیزو پایلو ارزونې رئیس د یادو ښوونځیو د اصول صنفي ټولګیو د تعلیمي وضعیت ارزونې سربېره، اړونده مسئولین خپلو اساسي مسئولیتونو ته متوجې کړل او له هغوی یې وغوښتل چې د هېواد بچیان په بشپړه اسلامي او ملي روحیه وروزي، ترڅو هغوی په راتلونکي کې د هېواد د هر اړخیز پرمختګ او ترقۍ لپاره د صادقانه خدمت کولو جوګه شي.

په ورته وخت کې د یادو ولایتونو پوهنې مسئولینو پلاوي ته د هرکلي ترڅنګ، خپلې ځینې ستونزې او وړاندیزونه وړاندې کړل، چې د پوهنې وزارت د معیاري آزموینو او ښوونیزو پایلو ارزونې رئیس له لوري ورسره د ښوونیزو پروګرامونو د پلي کولو او همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

## د پوهنې وزارت معارف آتشې د پېښور حوزې اړوندو مدارسو له مهتممینو سره غونډه وکړه

د پېښور ښوونیزې حوزې لپاره د پوهنې وزارت آتشه الحاج مولوي نورالله «نعمان» په مشرۍ یو پلاوي، د یادې تعلیمي حوزې اړوندو الحاقیه مدارسو له مهتممینو سره وکتل.

د خیبر پښتونخوا پوهنې آتشه په دې غونډه کې وویل، چې د پوهنې وزارت په دې سیمه کې تعلیمي مرکزونو ته ځانګړې پاملرنه کړې او په یاده سیمه کې به د مدارسو او ښوونځیو د پراختیا او پرمختګ لپاره هېڅ راز هڅې ونه سپموي.

همدا راز په دې غونډه کې د سیمې د مدارسو د مهتممینو وړاندیزونه او غوښتنې هم واورېدل شوې، او پورته ذکر شوي پلاوي د دوی د ستونزو او غوښتنو حل لپاره د هر اړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

## د پوهنې وزارت دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو اوونیز راپور

تېره اوونۍ د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد د رئیس مولوي جمعه خان "سروري" په سرپرستۍ، د یاد وزارت د ښوونې او روزنې معینیت د یو تن مسئول په ملتیا، د ښوونیزو مرکزونو له یو شمېر مسئولینو سره دوې اصلاحي او علمي غونډې ترسره شوې.

په یادو غونډو کې چې د ښوونیزو مرکزونو مسئولینو او استاذانو هم پکې ګډون درلود، د تعلیمي مرکزونو د تدریسي بهیر لا ښه والي او د دعوت ارشاد ریاست ځانګړې کړنلارې پلي کولو په موخه، د اغېزناکو او تفصیلي خبرو ترڅنګ، دوې اصلاحي او علمي غونډې د پوهنې وزارت اړوندو معینیتونو، د ریاست د مقام دفتر او د کارکوونکو چارو لوی ریاست د مسلکي منسوبینو په ګډون جوړې شوې.

په ورته مهال، د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست یو بل پلاوي د هېواد ۱۱ ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په ترڅ کې، د میدان وردګ او غزني ولایتونو له پوهنې ریاستونو څخه لیدنې وکړې، چې په دغو لیدنو کې د دعوت ارشاد ریاست پلاوي، د پوهنې ولایتي مسئولینو ته د شرعي او دیني مسایلو د تطبیق په برخه کې یو لړ لازمې سپارښتنې وکړې.

په ورته وخت کې، دعوت او ارشاد ریاست ته له کابل ښار او د ولایتونو له پوهنې ریاستونو څخه لاس ته راغلي راپورونه ښیي چې؛

په تېره اوونۍ کې له ټاکل شوي مهالوېش سره سم د تعلیمي مرکزونو اړوندو کارکوونکو ته د دیني درسونو لړۍ په نورمال ډول روانه وه، لکه د پخوا په څېر په مرکزي هسته کې د یاد ریاست څخه امام مولوي ابراهیم او ملا حبیب الله "عزیر" د یو شمېر ریاستونو د کارکوونکو حال له نږدې ولیده او هغوی ته یې لازمې توصیې وکړې.

همدا راز تېره یکشنبې د پوهنې وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو ته علمي او اصلاحي بیان هم ترسره شو.

## چند روش مؤثر برای حل مشکلات اطفال در یاد گیری درس

برای کمک به اطفال که در یادگیری درس‌ها مشکل دارند، می‌توان از روش‌های مختلفی استفاده کرد که بسته به نیاز و روش یادگیری هر کودک متفاوت است.

در اینجا چند روش مفید را معرفی می‌کنم:

۱. ایجاد محیط مناسب برای یادگیری: محیطی که کودک در آن درس می‌خواند باید آرام و بدون سر و صدا باشد. مطمئن شوید که مکان مناسب برای مطالعه وجود دارد و کودک در آن احساس راحتی می‌کند.

۲. تقسیم درس‌ها به بخش‌های کوچک: به جای اینکه تمام درس را یکجا بررسی کنید، آن را به بخش‌های کوچک تقسیم کنید. این کار به کودک کمک می‌کند تا بهتر مفاهیم را جذب کند.

۳.استفاده از روش‌های متنوع یادگیری: هر کودک ممکن است به روشی خاص بهتر یاد بگیرد. برخی کودکان از طریق تصاویر، نمودارها و فیلم‌ها بهتر یاد می‌گیرند، در حالی که دیگران با خواندن و نوشتن به بهترین شکل یاد می‌گیرند. سعی کنید روش‌های مختلفی مانند شنیدن، دیدن و انجام دادن را برای تدریس امتحان کنید.

٤.استفاده از بازی‌ها و سرگرمی‌ها: برای کودکانی که از مطالعه رسمی فاصله می‌گیرند، استفاده از بازی‌ها و فعالیت‌های سرگرم‌کننده که در عین حال آموزشی هستند، می‌تواند بسیار مؤثر باشد. بازی‌ها باعث می‌شوند که یادگیری به شکلی جذاب و کمتر خسته‌کننده انجام شود.

۵. برنامه ریزی و زمان‌بندی مناسب: برای هر درس، زمان مشخصی تعیین کنید و به کودک تان یاد بدهید که زمان را مدیریت کند. استفاده ازبرنامه‌های آموزشی روزانه می‌تواند به کودک کمک کند تا تمرکز بیشتری داشته باشد و از ضیاع وقت جلوگیری کند.

هر کودک نیاز به رویکرد خاص خود دارد، بنابراین بهتر است با توجه به نیازها و خصوصیات فردی هر کودک، از روش‌های مختلف استفاده کنید.

